د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَہْ د کتاب "نیکی کی دعوت" یو قسط مع ترمیم واضافه

# د نظر د حفاظت فضیلت

پښتو




| | |
|---|---|
| د اخوا دیخوا کتلو حساب به کیږي | 02 |
| د نظرِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اداګانې | 06 |
| د لارې د تکلیف ورکوونکو څیزونو ښودنه | 11 |
| نامحرمه زنانه سره د لاس مِلاوولو عذاب | 16 |



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون ”نیکی کی دعوت“ صفحه 314 تا 332 نه اخستے شوے دے۔

# د نظر د حفاظت فضیلت

دعائے عطّار: یا رَبَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رسا له ”د نظر د حفاظت فضیلت“ اولولي یا واروي هغه د تېولو ګناهونو سره سره د مسلمانانو د حق تلفئ نه هُم اوساتې او د هغه بے حسابه بخښنه اوکړې۔
اٰمِـیۡن بِـجَـاہِ خَاتَمِ الـنَّـبِـیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د اللّٰه پاک د آخري نبي، **محمدِ عربي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په شپه او ورځ کښې زما طرف ته د شوق او محبت په وجه درې درې ځله درود شریف اولوستو، په اللّٰه پاک باندې حق دے چې هغه د هغهٔ د هُغه ورځې او هُغه شپې ګناهونه معاف کړي۔ (مُعجَم کبیر، 18/362، حدیث:928)

## په لاره کښې د ناستې حَقونه

په ”**بُخاري** شریف“ کښې دي، د حضرت سَیِّدُنا ابو سعید خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (صحابۂ کرامو ته) ارشاد اُوفرمائیلو: تاسو په لارو کښې د کښیناستو نه ځان ساتئ! **صحابۂ کرام** عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان عرض وکړو: مونږ په دې مجلسونو کښې ناست (ضروري) خبرې کوو، او دا زمونږ د پاره ضروري دي. اوئې فرمائیل: کله چې تاسو مجلسونو ته ځئ نو لارې ته د هغې حق ورکړئ. عرض اوکړے شو: د لارې حق څه دے؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: (1) سترګې ښکته ساتل (2) تکلیف ورکونکے څیز لرې کول (3) د سلام جواب ورکول (4) **د نیکئ حکم کول او د بَدئ نه منع کول**. (صحیح بُخاری ج4 ص 165 حدیث6229)

## د اَخوا دیخوا کتلو به هم په آخِرت کښې حساب وي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په دې حدیثِ پاك کښې د لارې څلور حَقونه بیان کړے شوي دي:

## د لارې حق(1) نظر ښکته ساتل

واقعي د دې بے حده اهمیت دے. لهٰذا د آخِرت د ثواب حاصلولو په نِیَّت د سترګو [یعني د کتلو] مُتَعلِّق د نیکۍ **دعوت** پیش کووم. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد **محمّد** بن **محمّد** غزالي رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: سترګه دې د هر فضول خبرې (یعني چې د هغې ضرورت نه وي د هغې) نه ساتي، ځکه چې څنګه به **الله** تعالیٰ د "فضولو خبرو" په باره کښې تپوس کوي هم دغسې به د قیامت په ورځ د بنده نه د "فضول نظر" (مثلاً بے ضرورته د اخوا دیخوا کتلو) په باره کښې هم تپوس کوي. (احیاءُالعُلُوم ج5 ص 126) غیرمَحرم (یعني د چا سره چې نکاح کول د همیشه دپاره حرام نه وي هغې ته) د کتلو نه ځان ساتل ضروري دي. حدیث شریف کښې دي: "اَلْعَیْنَانِ تَزْنِیَانِ" یعني سترګې [هم] زِنا کوي. (مُسنَدِ امام احمد ج3 ص305 ص8852)

چې خوك په لاره هر طرف ته سترګې اَړوي را اَړوي نو د هغه د بدنګاهۍ [د بدو کتلو] نه بچ کیدل ډیر مشکل دي. قسم په خُدائے د **بدنګاهۍ عذاب** به خوك هم برداشت نه کړے شي.

## د سترګو د حفاظت قرآني حُکم

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د 397 صفحو کتاب "**پردے کے بارے میں سوال جواب**" نه یو څو مندرجات واورئ: **الله** تعالیٰ نارینؤ ته د سترګو د حفاظت حکم ورکوي چنانچه په سیپاره 18 سُوْرَةُ النُّوْر آیت 30 کښې ارشاد فرمائي:

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

(پ18 ،النور:30)

**مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان:** مُسلمانانو نارینؤ ته حکم ورکړه چې خپلې سترګې څه ښکته ساتي.

د زنانؤ د پاره د قرآنِ پاك ارشاد دے:

وَ قُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ یَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

(پ18 ،النور:31)

**مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان :** مُسلمانو زنانؤ ته حکم ورکړه چې خپلې سترګې لږې ښکته ساتي.

# سترګې به د اور نه ډکې کړے شي

**حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَيِّدُنا امام ابو حامِد محمّد بن محمّد غزالي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه نقل کوي: څوك چې خپلې سترګې حرامو ته په کتلو ډکې کړي د قِيامَت په ورځ به د هغه **سترګې د اور نه ډکې کړے شي**. (مُکاشَفَةُ القُلوب ص10)

# د اور سلائي

**حضرت** علامه **ابو الفَرَج عَبدُالرَّحمٰن بن جوزي** رَحمَةُ اللهِ عَلَيه نقل کوي: د زنانه مَحاسِن (يعني حُسن او ښکُلا) ته کتل د اِبليس په زَهرو کښې سوړ کړے [يعني د زهرو اوبه ورکړے] شوو غشو نه يو غشے دے، چا چې د نامحرمو نه د سترګې حفاظت او نکړو د هغه په سترګه کښې به په ورځ د قيامت **د اور سلائي** وهلے شي. (بَحرُالدُّموع ص171)

# د "زينب" د څلورو حروفو په نِسبَت

# د نظر په باره کښې څلور احاديثِ مبارَکه

# نظر واړوه

(1) حضرت سَيِّدُنا جَرير بن عَبدُ الله رَضِىَ اللهُ عَنهُ روايت فرمائي: ما د **سرکارِ دوعالَم** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ناڅاپه نظر پريوتو مُتَعَلِّق تپوس وکړو: ارشاد ئي اُوفرمائيلو: خپلې سترګې واړوه. (صحيح مُسلِم ص1190 حديث 2159)

# قَصداً مه ګوره

(2) سرکارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عَلِيُّ الْمُرتضٰى شيرِخدا رَضِىَ اللهُ عَنهُ ته اُوفرمائيل: د يو **نظر** نه پس دويم **نظر** مه کوه (يعني که چرې ناڅاپه بے اِراده په يوه زنانه نظر پريوځي نو فوراً ترينه سترګې واړوه او بيا ورته مه ګوره) ځکه چې وړومبے **نظر** جائز دے او دويم **نظر** جائز نه دے. (سنن ابي داؤد ج2 ص358 حديث 2149)

# دَ نظر دَ حِفاظت فَضِيلَت

(3) د تاجدارِ مَدِينه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانِ فرحَت نِشان [مفهوم] دے: د کوم مسلمان نظر چې د يوې

زنانه په خوبيانو [يعني د بدن په ښائِست او ډَوَل سِنګار] باندې (په بے خيالئ کښې) ورِومبے ځل پريوځي بيا خپلې سترګې ښکته کړي. اللّٰه تعالٰی به هغه ته داسې عِبادَت عطا کړي چې هغه به د هغې [عِبادت] خوند اومومي. (مسند امام احمد بن حنبل ج8 ص299 حديث22341)

## د ابليس زَهرژن غَشے

(4) د اللّٰه پاک خوږ حبيب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې حديثِ قُدسي (يعني د اللّٰه پاک فرمان) دے: نظر د ابليس په زَهرو کښې سوږ کړے [يعني د زهرو اوبه ورکړے] شوو غشو نه يو غشے دے. پس کوم کس چې زما د ويرې نه دا پريږدي نو زه به هغه ته داسې اِيمان عطا کړم چې د هغې حَلاوَت [يعني خوږ والے] به هغه په خپل زړه کښې محسوس کړي. (اَلْمُعجَمُ الکبير للطبرانی ج10 ص173 حديث10362)

## د زنانه څادر ته هم مه ګورئ

حضرت سَيِّدُناعلاء بن زِياد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: خپل نظر د زنانه په څادر هم مه اچوئ ځکه چې نظر په زړه کښې شهوت پيدا کوي. (حِلیةُ الاولیاء ج2 ص277)

## د خبرو په وخت کښې کوم ځائے ته کتل پکار دي؟

سوال: آيا په خبرو کولو کښې نظر ښکته ساتل ضروري دے؟

جواب: د دې صورتونه دي مَثَلاً دَ نارينه مُخاطَب (يعني د چا سره چې خبرې کوي هغه) اَمرَد وي او هغه ته په کتلو کښې شَهوَت راځي (يا که د شريعت په اِجازتِ نارينه د يوې غير محرمې زنانه سره يا زنانه د غيرمَحرَم نارينه سره خبرې کوي) نو د خبرو کولو په وخت کښې دې نظر داسې ښکته ساتي چې د يو بل په مخ بلکه د بدن په يو اندام تر دې چې د يو بل په جامو [کپړو] باندې ئې هم نظر نه پريوځي. که څه شرعي مُمَانَعَت نه وي نو د خبرو کولو په وخت کښې د مُخاطَب (يعني د چا سره چې خبرې کوي د هغه) مخ ته په کتلو کښې شرعاً څه باك نشته. که د نظر د حفاظت د عادت جوړَولو په نِيَّت د هر چا سره د خبرو کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلو عادت جوړ کړي نو ډيره ښه خبره ده ځکه چې مُشاهَده هم دا ده چې په دې زمانه کښې د چا د خبرو کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلو عادت نه وي او هغه ته

کله د اَمرَد يا غير محرمې زنانه سره د خبرو کولو ضرورت پيښ شي نو بيا په هغه موقع د هغه د پاره خپلې سترګې ښکته ساتل ډير مشکل وي.

## دَ مَدَني چينل نه په مُتَاَثّرِه کيدو د دولسو کسانو قبولِ اسلام1

خوږو او محُترمو اسلامي ورونړو! د سترګو ښکته ساتلو برکتونه مرحبا! راځئ چې په دې باره کښې يو عجيبه **مَدَني سپرلې** واورو چنانچه دَ بابُ المَدينه (کراچئ) د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د بيان خلاصه ده چې په مَدِينه منوَّره کښې د جُمُعے مبارکې په ورځ (2 جَمادَی الاُخریٰ 1432ھ بمطابق 6مئی2011ء) تقريباً څلور بجے د شنې عِمامے والا يو ځلمي سره زما مُلاقات اوشو د خبرو آترو په وخت کښې هغه دا خبره ښکاره کړه :چې زه د بمبئ (هِند) اُوسيدونکے يم، سره زما زمونږ د کور ټولو يعني دولسو کسانو (د جُمعے مبارکې په ورځ 5 ذوالحِجّةِ الحرام 1431ھ بمطابق12-11-2010) اسلام قبول کړو. د اسلام د قبلولو وجه هغوئي داسې بيان کړه چې: زمونږ د کور خلقو د څه مودے نه د دعوتِ اسلامي **مَدَني چينل** کتل شروع کړے وو. د دې پروګرامونو کښې د مسلمانانو اسلامي لِباس، د هغوئي مُسکـې او روښانه مخونو او د بيان سادګئ به مونږ ته ډير خوند راکولو. حالانکه د دې نه مخکښې مونږ د بے عمله مُسلمانانو د حرکتونو په وجه د مسلمانانو نه ډير نفرت کولو خو اوس مو چې په **مَدَني چينل** د اسلام حقيقي تصوير اوليدو نو مونږ د اسلام نه مُتَاَثِّره کيدل شروع شو. خاص طور د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغينو د نظر ښکته ساتلو بيا بيا ترغيب ورکولو نه مونږ ډير مُتاثِره شو او د **سترګو د قُفلِ مَدينه** د فائدو ذِکر به مو چې واوريدو نو ډير به خوشحاله شو، زما والِده به ټولو ته وئيل: د بدعَمَلئ په دې دور کښې هم دا خلق د نظر ښکته ساتلو درس ورکوي، واقعي نظر ښکته ساتل پکار دي. د مَدَني چينل د سلسلو په کتلو کتلو زمونږ په زړه کښې د اِسلام محبَّت دومره زيات شو چې په کور کښې د اِسلام قبلَوَلو خبرې شروع شوې خو مونږه دا ويره محسوسوله چې **خلق به څه وائي؟** د دې سوال جواب هم مونږ ته مَدَني چينل راکړو، هغه داسې چې نِګرانِ شورٰی و مُبَلِّغِ دَعوتِ اسلامي حاجي ابو حامِد محمّد عِمران عطاري سلّمه الباری چې کله د ''*لوگ کیا کہیں گے؟*'' [يعني خلق به څه وائي؟] په موضوع د سُنَّتو ډک بيان اُوفرمائيلو نو د

[1] دا مَدَني سپرلے کتاب ''*پردے کے بارے میں سوال وجواب*'' کښې نشته، جُدا شامِل کړے شوے دے.

تول کور والؤ ذِهن جوړ شو چې اوس مونږ له د خلقو پرواه کول نه دي پکار او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږ کلِمَه اُووئيله او په اسلام کښې داخِل شُو. زه سرکاري نوکر يَم، د اِسلام قَبلَوَلو نه پس زما نوم محمّد اِبراهيم کيښودے شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د حضورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په سلسله کښې مُريد شوے هُم يم. د مُبَلِّغ دَعوتِ اسلامي نور بيان دے چې کله هغه نوے مسلمان ځلمے زمونږ سره د سرکارِ مَدِينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مزارِ پُراَنوار ته حاضر شو نو د هغه زړه نرم شو او په ژړا ژړا ئې بيا بيا دا عرض کول شروع کړل: "يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته د سترګو قُفلِ مدينه عطا کړئ." بيا هغوئي د شين ګُنبد د يخ سوري نه لاندې خپله دا پخه اراده ښکاره کړه چې اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم اوس به زه نور غير مُسلِمَه هم په اِسلام کښې د داخِلَوَلو پوره پوره کوشش کووم. الله تعالیٰ دې هغوئي ته او د هغوئي په خاطِر مونږ ټولو ته په اسلام باندې او د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې اِستِقامَت رانصيب کړي. د دولسو کسانو د اسلام قبلَوَلو سَبَب جوړيدو والا د سُنَّتو ډك بيان "لوگ کیا کہیں گے؟" د دعوتِ اسلامي په ويب سائټ www.dawateislami.net باندې کتلے او اوريدلے شئ.

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں
اے دعوتِ اسلامی تیری دھوم مچی ہو

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نظرِ مُصطفٰی اداګانې

سوال: د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر فرمائيلو [يعني د کتلو] مختلِفې طريقے بيان کړئ؟

جواب: (1) د چا مخ ته به ئې [مسلسل] نه کتلو (2) د څه خيز طرف ته د نه کتلو په حالت کښې به ئې خپل نظر ښکته ساتلو (3) د هغوئی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر به د آسمان په نِسبَت زيات زمکې طرف ته وو. مطلب دا دے چې د خاموشۍ په وخت کښې به ئې اکثر مبارَك نظر ښکته ساتلو (4) اکثر به ئې د سترګو په ګوټ کښې کتل. مَطلَب دا دے چې د ډير زيات شرم و حيا په وجه به ئې په پوره سترګه [يعني نيغ] نه کتل. (5) چې کله به د چا طرف ته مُتوجِّه کيدلو نو پوره به مُتَوَجِّه کيدلو، يعني بے توجُّهي

به ئې نه كوله او بعضو دا فرمائيلي دي چې صرف په مخ مبارك راړولو به چا ته نه مُتَوَجِّه كيدلو بلكه په پوره بدن مبارك راتاويدو به مُتَوَجِّه كيدو. (مُلَخَّص از جَمعُ الوسائل فی شرح الشمائل للقاري ص53،52، اِحياء العلوم ج2 ص442)

جس طرف اُٹھ گئی دم میں دم آگیا اُس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ كلامِ رضا[1]: زما آقا اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہ علیه په دې شعر كښې فرمائي: زمونږ د خوږ خوږ آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نظرِ كرم چې په دُنيا او آخِرت كښې په كوم ځائے پريوځي هلته په مړو وجودونو كښې ساه او په روحونو كښې تازګي پيدا شي، زمونږ د مَكّي مَدَنی آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د رحمتونو او عِنايتونو نه ډك پاك نظر باندې په لكونو سلام. د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہ علیه په دې شعر حضرت مَولانا اختر الحامِدی رحمۃُ اللہ علیه څه ښكُلے تضمين تړلې دے.

پڑگئی جس پہ محشر میں بخشا گیا دیکھا جس سَمت ابرِ کرم چھا گیا
رُخ جدھر ہو گیا زندگی پا گیا جس طرف اُٹھ گئی دم میں دم آگیا
اُس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام

**يعني** زمونږ د مَكِّـی مَدَنـی آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم مبارك نظر چې په مَحشَر كښې په چا پريوځي هغه به اُوبخښلې شي، او چې كوم طرف ته ئې وكتل هلته د رحمتونو وريځې راغلې، چې مبارك مخ ئې كوم طرف ته شو، هغه طرف ته هر څيز كښې ژوند پيدا شو، چې كوم طرف ته ئې نظر اُوفرمائيلو هلته په ژوند كښې نور ژوند راپيدا شو. په هغه بركتي مباركو ستركو دې ډير ډير سلام وي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وِيلي كړے شوې سِيكه به ئې په ستركو كښې اچولې كيږي

منقول دي: **"څوك چې په شَهوت سره د يوې نامحرمې زنانه ښائست او ښكُلا ته اُوګوري د قِيامت په ورځ به د هغه په ستركو كښې وِيلي كړے شوې سيكه اچولے كيږي."** (هدايه ج2 ص368) يقيناً ورندار هم نامحرمه ده. تر اوسه چې كوم ليور خپلې ورندار ته قصداً كتلې وي، آزادي ئې ورسره ساتلې وي، توقې ټقالې ئې

[1] شرحِ كلامِ رضا په كتاب "پردے کے بارے میں سوال جواب" كښې شامِل نه دے، دا جُدا شامل كړے شوے دے.

ورسره كړي وي، هغوئي دې د الله تعالیٰ د عذاب نه وَيَريږي او فوراً دې په رِښتيني توبه اوباسي. **وروندار** كه **كشر ليور** ته كشر ورور او **مشر ليور** ته مَشَر ورور وائي نو په دې وجه بے پردګي او آزادي نه جائز كيږي بلكه په دې وجه ليور او ورندار د بدنظرئ او په خپل مينځ كښې د آزادئ او د ټوقو ټقالو وغيره ګناهونو په دَلدَل كښې نور هم خخيږي. **ياد ساتئ!** د ليور او ورندار په خپل مينځ كښې بے ضرورته او په آزادئ خبرې كول ډير زيات خطرناك دي! خير ئې هم په دې كښې دے چې يو بل ته دې نه ګوري او نه دې د يو بل سره بے ضرورته خبرې كوي او نه دې د آزادئ خبرې كوي.

دیکھنا ہے تو مدینہ دیکھئے　　　قصرِ شاہی کا نظارہ کچھ نہیں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زه د تي بِي مريض ووم

د **شَرم** و حيا جذبه موندلو د پاره، د بدنګاهئ د آفتونو نه خپل ځان د ويرولو او د نظر د حفاظت جذبه نوره زياتولو د پاره او د خبرو كولو په وخت كښې د نظر ښكته ساتلو د عادت جوړوَلو د پاره د تبليغِ قرآن و سُنَّت عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ، او خپل دا مَدَني مقصد چې **ماته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح كوشش كول دي** د حاصلولو د پاره او د خپل ايمان د حفاظت د پاره فكرمند اوسئ، د لمونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتُو عمل كوئ، د مدني اِنعاماتو مطابق ژوند تيروئ، او په دې باندې د اِستِقَامَت موندلو د پاره هره ورځ د "**فِكرِ مدينه**" په ذريعه د مَدَني انعاماتو رساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په اولني تاريخ ئې د خپل ځائے د دعوتِ اسلامي ذمه دار ته جمع كوئ او په پابندئ سره هره مياشت كم نه كم د درې ورځو د سُنَّتو د تربيت په مَدَني قافله كښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر كوئ. راځئ چې ستاسو د ترغيب او تحريص د پاره تاسو ته يو مَدَني سپرلے واوروم، د ضلع ننكانَه (پنجاب پاكستان) د يو اسلامي ورور بيان په خپل انداز كښې د پيش كولو كوشش كووم، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ(د دې بيان وركولو په وخت كښې) زه تقريباً د دولسو كالو نه د تبليغ قرآن و سُنَّت عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول كښې شامِل يم. [په دعوتِ اسلامي كښې زما] د شامليدو سبَب دا دے چې زه د سُنَّتو ډكې د درې ورځو

بَینُ الاقوامي اجتماع (صحرائے مدینه، مَدینةُ الاولیاء مُلتان شریف) کښې حاضر شوے ووم. د اجتماع نه تقریباً ووه میاشتې پس زه سخت بیمار شوم، ډاکټرانو زما مرض **ټي. بي** اوښودو. د بیمارئ په حالت کښې تقریباً څلور میاشتې تیرې شوې او یو ځل بیا د درې ورځو د سُنَّتو ډکې اجتماع سېرلے راغے. زه د تللو د پاره بے قراره ووم خو کور والؤ منع کولم. ما د خپلې مور ذِهن جوړ کړو چې هلته ګڼړ شمیر **عاشقانِ رسول** تشریف راوړي. ما ته د تلو اِجازت راکړئ، د نیکو بندګانو صُحبت او هلته کیدونکې د **رِقَّت انګیزې دُعا** په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم زه د صحت نِعمَت راوړم. مور صاحبې اِجازت راکړو، دوایانې مې د ځان سره واغستې او په **اجتماع** کښې شریك شوم. آخري **رِقَّت انګیزه دُعا** ختمیدو والا وه. زما په زړه کښې ارمان پیدا شو چې دُعاګانې خو ډیرې اوشوې خو زما د مرض **ټي. بي** د پاره ښکاره (یعنې په صفا صفا الفاظو کښې) دُعا اُو نه غوښتلے شوه. کاش! چې د **ټي. بي** د مریضانو د پاره هم دُعا اوشي، چې څنګه دا خبره زما په ذِهن کښې راغله نو کمال اوشو! د دُعا کوونکې څه داسې آواز په سپیکر کښې راغلو: **یا الله** عَزَّوَجَلَّ چې څوك د کینسر مریضان دي، د **ټي. بي** مریضان دي هغوئي ته هم شِفائے کامِله ورکړې. په دُعا کښې د یو دوو نورو بیمارو نومونه هم واغستے شو خو هغه زما نه هیر دي. خیر د **ټي. بي** نه د شِفا دُعا د اوریدو سره ما په زړه کښې اُووئیل چې: "بس ته به اوس جوړ شې." د اجتماع نه د بیرته راتلو په دویمه ورځ د چیك اپ کولو د پاره د پنجاب ښار "شیخوپوره" ته لاړم، ایکسرے وغیره مې اوکړه،سپیشلسټ ډاکټر چې ایکسرے اوکتله نو حیران پاتې شو او اوئې وئیل: مبارك شه ستا **ټي. بي** ختم شوے دے!

اگرچِہ ہو ٹی بی، نہ گھبراؤ پھر بھی　　شفا حق سے دِلوائے گا مَدَنی ماحول
تمہیں صِحّت و عافیّت ہو گی حاصل　　تم اپنا کے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول

## د بیمارئ عَظِیمُ الشَّان فَضیلت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اولیدل! د **الله تعالیٰ** په رَحمَت د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې د شرکت کوونکې اسلامي ورور د **ټي. بي** بیماري ختمه شوه. مونږ د **الله تعالیٰ** نه د هغه جَلَّ جَلَالُهٗ د عبادت د پاره د طاقت او د روغ صحت سوال کوو، خو بیا هم که چرې څه بیماري راشي نو هِمَّت مه بیلئ ، صبر کوئ

او د بيمارئ په وجه د آخِرت په ثواب حاصليدلو نظر ساتئ، چنانچه د حضرت سَيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رضی الله عنه نه روايت دے، چې د دواړه جهانو تاجدار صلّی الله علیه واٰلهٖ وسلّم فرمائيلي دي: كله چې مسلمان په څه بَدَني بيمارئ كښې اَخته شي نو فرښتے ته حكم اوكړے شي: ”ته د ده هم هغه نيكئ ليكه كومې چې ده مخكښې كولې.“ كه چرې هغه ته شِفا وركوي نو اوئې وِينځئ [يعني ګناهونه ئې ختم كړي] او پاك ئې كړي او كه هغه ته مرګ وركوي نو اوئې بخښي او رحم پرې اوكړي. (شرح السنة لِلبَغوی ج3 ص 187 حديث 1424)

عارِضی آفت دنیا سے تو دل ڈرتا ہے ہائے بے خوف عذابوں سے ہوا جاتا ہے
یہ ترا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر یہ مرض تیرے گناہوں کو مٹا جاتا ہے
اصل بربادکُن اَمراض گناہوں کے ہیں
بھائی ! کیوں اِس کو فراموش کیا جاتا ہے (وسائلِ بخشش ص ۱۲۶)

**يعني** (1) د دُنيا د عارضي تكليفونو نه خو مونږ يَرېږو خو افسوس د آخِرَت عذاب مو هير كړے دے. (2) دے بدني بيمارئ ته مه خفه كيږه، دا مرض خو ستا ګناهونه ختموي. (3) اصل بربادوونكي مرضونه خو د ګناهونو مرضونه دي، اے وروره! هغه دې ولې هير كړي دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ”دَ لاري حق نمبر(2) تكليف وركوونكي خيز لرې كول“

## د ازغي لرونكي خاخ لرې كولو والا بخښنه وشوه

د هُم دې رسالے په صفحه نمبر 1 كښې ذِكر شوي د بُخاري شريف حديثِ پاك ”په لارو كښې د ناستې حقونه“ كښې ذكر كړے شوے حق نمبر1 ”نظر ښكته ساتلو“ مُتَعَلِّق د ”**نيكئ د دعوت**“ په دَلو دَلو مَدَني ګلونه حاضر كړے شول، اوس هم په هغه رِوايت كښې بيان كړے شوے د **لارې حق نمبر** (2) ”**د تكليف وركونكے خيز لرې كولو**“ په باره كښې د نيكئ د دعوت يو څو مَدَني ګلونه وړاندې كيږي، واورئ: يقيناً د مسلمانانو د لارو نه د تكليف وركونكو خيزونو د لرې كولو ډير فضيلت دے چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي د 743 صفحو كتاب ”**جنّت میں لے جانے**

**والے اعمال**" صفحه 623 کښې فرمانِ مُصطفٰی صلی اللہ علیہ والہ وسلم دے: "يو کس په يوه لاره تيريدو، هغه په هغه لار کښې يو ازغي **لرونکے خاخ** اوليدو نو هغه ئې د لارې نه لرې کړو، **الله تعالیٰ** ته د هغه دا عمل خوښ شو او د هغه بنده **بخښنه** ئې اوکړه." (صحيح مسلم ص1060 حديث1914)

سَبَقَتْ رَحْمَتِیْ عَلٰی غَضَبِیْ — تو نے جب سے سنا دیا یارب
آسرا ہم گناہ گاروں کا — اور مضبوط ہو گیا یارب

(ذوقِ نعت)

**يعني** يا **الله** عزوجل چې د کله نه تا مونږ ته سَبَقَتْ رَحْمَتِیْ عَلٰی غَضَبِیْ [يعني زما رحمت زما د غضب نه زيات دے] را اَورَوَلي دي، د هغې نه پس زمونږ د ګنهګارانو له تا نه اُمّيد نور هم زيات شو.

## د لارې نه د تکليف ورکونکي څيز د لرې کولو ثواب

د **حضرت** سَيِّدُنا اَبو درداء رضی اللہ عنہ نه روايت دے: چا چې د مسلمانانو د لارې نه تکليف ورکونکے څيز لرې کړو نو د هغه د پاره به يوه نيکي ليکلې کيږي او د چا د پاره چې د **الله تعالیٰ** سره يوه نيکي اوليکلے شي نو **الله تعالیٰ** به د هٔغه نيکئ په سبَب هغه جَنَّت ته داخل کړي.

(المُعجَمُ الاوسط ج1 ص19 حديث32)

## د لارې د تکليف ورکونکو څيزونو ښودنه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! که د مسلمانانو په لار کښې داسې کانړې، ګټه، وغيره وي چې په هغې ټِينډَك [يعني ټوکر] خوړے شي يا ماتې شيشے پرَتے وي چې د هغې په وجه د چا ښپه زخمي کيدے شي، يا په سړك د کيلو يا **پاپيتو** يا د آم وغيره پوستکي چا غورزَوَلي وي چې په هغې د ښوئيدَلو په وجه اِنسان راپريوتے شي دا څيزونه او داسې نور څيزونه د **الله تعالیٰ** د رَضا په نِيَّت لرې کول د ثواب کار دے. هم دغسې که لاره لوَړه جوَړه وي يا د ګټو نه سر لرې شوے وي، که کيدے شي نو د هغې مُناسِب بندوبست کول پکار وي، خلاصې ګټرې خو دومره خطرناکې وي چې کله کله ورته ماشومان وغيره غوزار شي او مړه شي،کوم ځائے چې د [د مين هولونو] اوسپنې د سرونو د غلا کيدو خطره وي هلته د سيمنټو سرونه لګول مُناسِب دي. هر کس له پکار دي چې کوم څيزونه د نورو د پاره نقصاني

وي مَثَلاً پوستکـي، ګندګي وغيره داسې څيزونه دي په لارو کښې نه غورزَوِي. که چرې د خپل کور ګټَر ډك شي او ګنده اوبه کوڅې ته را اُوځي يا د ګنده اوبو پائِپ مات شي نو داسې مسائِل فوراً حل کول پکار دي، او د کور جامے چې هم وِينځلے شي نو د اوچولو د پاره په ګيلرئ کښې داسې نه دي خورَوَل پکار چې په لاره تيريدو والا خلقو باندې د هغې اوبه څاڅي. د چا د کور مخې ته داسې خزلې [کچره] غورزَوَل چې هغه ته ترينه تکليف رسي دا ګناه ده. د عوامو حقونه وهل مَثَلاً د اجتماعِ ذِکر و نَعت، چوك اجتماع يا د يو ديني يا دُنياوي پروګرام د پاره عامه لار بندول ناجائزه او ګناه ده. هم دغه رنګ د څيزونو خرڅولو د پاره ريړئ اودرول يا بسته (سټال) داسې ځائے کښې لګول يا قَصداً ګاډے داسې ځائے کښې اودرَوَل چې د چا د کور لار، د چا د دُکان لار يا د لارو لاره پرې تنګه شي دا هم شرعاً جائز نه دي. خو که چرې په يو لمُونځ کښې جُمات ډك شو او بهر صفونه جوړ کړے شول يا د جَنازے د جلوس په وجه لاره بنده شوه دا ګناه نه ده. دغه رنګ د حاجيانو د رخصتولو او د استقبال په جلوس او په جلوسِ ميلاد کښې هم باك نشته.

مسلماں کی راحت کا ساماں کیجے　　یوں خود پر رہِ خُلد آساں کیجے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لارې حق نمبر(3) ”د سلام جواب ورکول“

## په سلو کښې 90 رحمتونه هغه ته حاصليږي څوك چې ....

**هم د دې** کتاب په صفحه نمبر 1 کښې ذِکر شوي د بُخاري شريف حديثِ پاك ”په لارو کښې د ناستې حقونه“ کښې د **لارې حق نمبر** (3) ”د سلام جواب ورکول“ مُتَعَلِّق د نيکئ د دعوت پيش کولو مَدَني ګلونه قبول کړئ: **که چې يو مسلمان سلام اوکړي نو د هغې جواب فوراً او په دومره آواز کښې ورکول واجب دي چې سلام کونکے ئې واوري.** د سلام او ملاقات ډير فضيلت دے: **فرمانِ مُصطفٰى** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چې کله دوه مسلمانان ملاقات کوي او په هغوئي کښې يو خپل ملګري ته سلام کوي نو په هغوئي کښې د **الله تعالٰى** په نِزد زيات مَحبوب (يعني زيات خوښ) هغه کس دے څوك چې د خپل ملګري سره په

ډېره ګرم جوشۍ ملاقات کوي، بيا چې کله هغوئ مُصافَحه کوي (يعني يو بل له لاس ورکوي) نو په هغوئي باندې سل رحمتونه نازليږي، په دې کښې لس آتيا رَحمتونه په (سلام کښې) د مخکښې کيدو والا د پاره، اَو لَس په مصافحه [يعني لاس ملاوولو] کښې د مخکښې کيدو والا د پاره دي. (مُسندالبَزار ج1ص 437 حديث308) **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کله چې دوه مسلمانان د ملاقات په وخت کښې د يو بل سره مُصافَحه کوي (يعني يو بل سره لاس ملاووي) نو د هغه دواړو د جُدا کيدو نه **مخکښې** د هغوئي بخښنه اوشي. (ترمِذی ج4ص333 حديث2736)

حضرت عَلّامه مَولانا عَبدُ الرَّءُوف **مَناوِي** رَحمَۃُ اللهِ عَلَيه د دې حديثِ پاك د الفاظو چې "کله دوه مسلمانان دملاقات په وخت کښې ديو بل سره مصافَحه کوي (يعني يو بل سره لاس ملاووي)" لاندې فرمائي: يعني نارينه دې نارينَه سره او زنانه دې زنانه سره (لاس ملاووي). (فَيضُ القدير ج5ص637تحت الحديث8109)

تِری رَحمتوں پہ میں قربان یاربّ مرے بال بچّے مری جان یاربّ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! عام طور هر مسلمان ته د سلام کولو او د سلام د جواب ورکولو او د مصافَحه کولو يعني د لاس ملاوولو سعادت نصيب کيږي. راځئ چې ! د "**نيکۍ د دعوت**" نور ثواب حاصلولو د پاره په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د چاپ شوې رسالې "**101 مدنی پھول**" نه يو څو خوشبوداره مدني ګلونه د راټولو شرف حاصل کړو: پيش کړے شوے هر مدني ګل سُنَّت د رسولِ مقبول صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مه ګڼړئ، په دې کښې د سُنتّو نه علاوه کيدے شي چې د بُزرګانِ دين رَحِمَهُمُ الله نه منقول **مَدَني ګلونه** هم شامل وي. ترڅو پورې چې يقيني طور معلوم نه وي تر هغې پورې يو عمل ته هم "سُنَّتِ رسول" نه شي وئيلے.

## دَ "اَلسَّلامُ عَلَيكُمْ" د يوولسو حروفو په نِسبَت د سلام 11 مَدَني ګلونه

(1) مسلمان سره د مُلاقات کولو په وخت کښې هغه ته **سلام** کول سُنَّت دي. (اسلامي خويندې دې اسلامي خويندو ته او محارِمو ته سلام کوي) (2) د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1332 صفحو کتاب **بهارِ شريعت**(جلد3) صفحه 459 کښې د ليکلې شوې جُزيے خلاصه ده: "د **سلام** کولو په وخت کښې په زړه کښې دا **نِيَّت** پکار دے چې چا ته **سلام** کووم د هغه مال او عِزَّت او پرده ټول زما په حِفاظَت

کښېښ دي او زه په دې ښېزونو کښې دخل اندازي کول حرام ګڼړم" (3) په ورځ کښې که هر څو ځله ملاقات کېږي، که د يوې کوټې نه بلې کوټې ته بيا بيا تلَل راتلَل وي، هلته موجودو مسلمانانو ته سلام کول د ثواب کار دے. (4) په **سلام** کښې **مخکښې** کيدل سُنّت دے (5) په سلام کښې **مخکښې** کيدلو والا د الله تعالیٰ مُقرَّب (يعني نزديکت موندونکے بنده) دے (6) په **سلام** کښې مخکښې کيدلو والا د تَکَبُّر نه بَري (يعني آزاد) دے. څنګه چې زما د مَکِّي مَدَني آقا **خوږ خوږ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمانِ دے: اول **سلام** ويونکے د تَکَبُّر نه بَري دے. (شُعَبُ الايمان ج6 ص433 حديث8786) (7) **سلام** کونکي باندې 90 رحمتونه او جواب ورکونکي باندې 10 رحمتونه نازلېږي. (کيميائے سعادت ج1 ص394) (8) اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (يعني په تا دې سلامتي وي) وئيلو باندې 10 نيکئ حاصلېږي. او که ورسره وَرَحْمَةُ اللهِ (او د الله رحمت دې وي) او وائي نو 20 نيکئ به شي.اوکه وَبَرَكَاتُهٗ(د هغه برکتونه دې وي) ورسره شامل کړئ نو 30 نيکئ به شي. بعضې خلق د سلام سره د "جَنَّتُ الْمُقَام او دُوزَخُ الْحَرام" الفاظ زياتوي، دا غلطه طريقه ده. اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه **امام احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فَتاوٰی رضويه جلد 22 صفحه 409 کښې فرمائي: کم نه کم اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ او د دې نه غوره ورسره وَرَحْمَةُ الله وئيل او د ټولو نه غوره وَ بَرَكَاتُهٗ شامِلَوَل او په دې باندې زياتوالے نشته. که هغه اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اُووئيلو نو دا دې وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَ رَحْمَةُ اللهِ اُووائي. او که هغه اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ الله اُووئيل نو دا دې وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُهٗ اُووائي او که هغه وَبَرَكَاتُهٗ پورې اُووئيل **نو دا دې هم دومره اُووائي ځکه چې په دې زياتوالے نشته.** وَاللهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ (9) هم دغه رنګ که په جواب کښې وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ اُووائي نو 30 نيکئ حاصلولے شي. (10) د **سلام** جواب فوراً او په دومره آواز کښې ورکول واجب دي چې **سلام** کوونکے ئې واوري. (11)**سلام** اود **سلام** دجواب صحيح تَلَفُّظ ياد کړئ. اول ئې زه وايم تاسو ئې واورئ او بيا ئې اُووائي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (اَس.سَلا.مُ.عَلَے.كُمْ) اوس زه جواب وايم بيا ئې تاسو اُووائي: وَعَلَيْكُمُ السَّلَام (وَ.عَ.لَيكُ.مُس.سَلام).

رضائے حق کیلئے تم سلام عام کرو     سلامتی کے طلبگار ہو سلام کرو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## "مصافحه کول سُنَّت دي" دڅوارلسو حروفو په نِسبَت د لاس ملاوولو 14 مدني ګلـونه

(1) د دوو مسلمانانو د مُلاقات په وخت کښې په دواړو لاسو مُصافَحه کول يعني دواړه لاسونه ورکول سُنَّت دي. (2) د لاس ملاوولو نه مخکښې سلام کوئ (3) دَ رُخصَت کيدو په وخت کښې هم سلام کوئ او (ورسره ورسره) لاس هم ملاوولے شئ. (4) د نَبِيّ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشادِ مُعَظَّم دے: "چې کله دوه مسلمانان د مُلاقات په وخت کښې مُصافَحه کوي او د يو بل نه د خيريت تپوس کوي نو الله پاک د هغوئي په مينځ کښې سل رحمتونه نازلوي، په هغې کښې يو کم سل رحمتونه زيات په خوشحالئ سره د ملاقات کونکي او په ښه طريقه د خپل ورور د خيريت د تپوس کونکي د پاره دي." (المُعجِمُ الاوسط ج5 ص380 حديث 7672) (5) د لاس ملاوولو په وخت کښې **درود شريف** لولئ، د لاس جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې به مو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی تير شوي او راروان ګناهونه اُوبخښلې شي (6) د لاس ملاوولو په وخت کښې چې **درود شريف** اولولئ نو که کيدے شي دا دُعا هم ولولئ: "يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ" (يعني الله تعالٰی دې زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي) (7) دوه مسلمانان چې د لاس ملاوولو په وخت کښې څه دُعا غواړي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم **قبوله** به شي او د لاسونو جدا کيدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو بخښنه وشي. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم (8) په خپل مينځ کښې د لاس ملاوولو په وجه دُښمني ختميږي. (9) مسلمان ته **سلام** کول، **لاس ملاوول** بلکه په مُحبَّت سره د هغه ديدار کول هم ثواب دے. په حديثِ پا ک کښې دي: څوك چې خپل يو مسلمان ورور ته دَ مَحَبَّت نه په ډك نظر اُوکوري او د هغه په زړه کښې دُښمني نه وي نو د نظر اَړَولو نه مخکښې مخکښې د دواړو تير شوي او راروان ګناهونه اُوبخښلې شي. (المُعجَمُ الاوسط ج6 ص131 حديث 8251) (10) هر څو ځله چې مُلاقات کيږي نو هر ځل لاس ملاوولے شئ. (11) نن صبا بعضې خلق يو بل له يو يو لاس ورکوي بلکه يو بل سره صرف د ګوتو سرونه وجنګوي دا د سُنَّت خلاف دي. (12) د لاس ملاوولو نه پس خپل لاس ښکلول مکروه دي. (بهارِ شريعت ج3 ص472) (د لاس ملاوولو نه پس خپل لاس ښکُلولو والا اسلامي ورونړه دې خپل عادت لرې کړي) خو که يو بزرګ سره لاس ملاوولو نه پس د برکت د پاره خپل لاسونه ښکُل کړي نو مکروه نه دي، لکه څنګه چې اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که د چا سره مو مُصافَحه وکړه او د برکت د پاره مو خپل لاس ښکل کړل نو

منع نه دي خو چې چا له مو لاس ورکړے وو هغه په هغه هستيانو کښې وي د چا نه چې برکت حاصلولې شي. (جَدُّالمُمتار، کتاب الحظرِوَالإباحَةِ، باب الاِستبراء وغیرہ مقولہ4683 ج7ص65) (13) اَمرَد (يعني ښکلي هلك) سره (يا يو سړي سره) لاس ملاولو کښې که شهوت پيدا کيږي نو هغه سره لاس ملاوول جائز نه دي بلکه هغه ته د کتلو په وجه شهوت پيدا کيږي نو هغه ته کتل هم گناه ده. (دُرِّمختار ج2ص98) (14) د مصافحه کولو (يعني د لاس ملاوولو) سُنَّت دا دي چې په لاس کښې رومال وغيره نه وي، دواړه لاسونه تش وي او ورغوې د ورغوي سره لګيدل پکار دي. (بہارِشریعت ج3ص471)

## د نامَحرمه زنانه سره د مصافحه کولو عذاب

په يو اُوکد حديثِ پاك کښې دا هم دي: چا چې د يوې نامَحرمې زنانه (يعني داسې زنانه سره چې د هغې سره نکاح د هميشه د پاره حرامه نه وي) سره مصافحه وکړه (يعني لاس مِلاو کړو) هغه به د قيامت په ورځ په داسې حال کښې راځي چې د هغه لاس به د اور په زنځير د څټ سره تړلې شوے وي. (قُرَّةُالعُیُون ص389) د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب "بہارِشریعت" (جلد3)صفحه 446 کښې دي: (نامحرمه زنانه) سره لاس مِلاوول جائز نه دي لِهٰذا حضورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د بَيعت په وخت د زنانؤ سره لاس نه مِلاوَولو صرف زباني بيعت به ئې کولو. خو که ډيره بوډئ وي چې [هغې ته په کتلو يا لاس ملاوَولو کښې] شهوت نه پيدا کيږي نو هغې سره لاس ملاوَولو کښې باك نشته. هم داسې که سړے ډير زيات بوډا وي چې د هغه نه د هيڅ فِتنے ويره نه وي نو [زنانه] د هغه سره لاس مِلاوَولے شي. (بہارِشریعت ج3ص446)

زنانِ غیر سے بھائی مُصافَحہ مت کر ہُوا ہے جُرم یہ گر کر لے توبہ حق سے ڈر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لارې حق نمبر (4) د نيکئ حکم ورکول او د بَدئ نه منع کول

د دې کتاب په صفحه نمبر 1 کښې ورکړې شوې د بُخاري شريف حديثِ پاك "په لارو کښې د کښيناستلو حقونه" کښې د لارې حق نمبر 4 "د نيکئ حکم ورکول او د بَدئ نه منع کول" مُتَعَلِّق د

نيكۍ د دعوت مَدَني ګلونه حاضر دي: د نيكۍ د حكم كولو او د ګناه نه د منع كولو د ثواب خو څه حد نشته. په لاره كښې اكثر د دې ډيره موقع په لاس راځي. مثلاً تاسو ناست ئې او څوك د مُلاقات د پاره راغي بغير د سلام نه ئې لاس دركړو نو هغه ته داسې د نيكۍ دعوت وركړئ چې وروره! ملاقات له راتلونكي د پاره د لاس ملاوولو نه مخكښې سلام كول **سُنَّت** دي. بعضې خلق د سلام كولو په وخت كښې ټيټيږي هغوئي هم د موقع په مناسبَت د هغوئي د مزاج مطابق پوهه كول پكار دي. مثلاً هغوئي ته داسې وئيل پكار دي چې: د **دعوتِ اسلامي** اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1197 صفحو كتاب "***بهارِشريعت***" (جلد3) صفحه 464 كښې مسئله نمبر 31 كښې دي چې: بعضې خلق د سلام په وخت كښې ښكته كيږي، دا ښكته كيدل كه د ركوع د حده پورې وي نو **حرام** او كه د دې نه كم وي نو **مكروه** دي. (بهارشريعت ج3ص464) خو كه د لاس ښكُلَولو د پاره ښكته شي نو باك نشته ځكه چې د ښكته كيدو نه بغير لاس ښكُلَول ګران وي. د دې خبرې د **نيكۍ د دعوت** ښه طريقه دا كيدے شي چې تاسو سره **مَدَني بيګ** وي او په هغې كښې د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوو نورو رسالو سره سره "**101 مدني پهول**" نومې رِساله هم موجوده وي او تاسو هغه ته د دې رسالې نه دا "مدني ګل" اوښائې، او ډيره ښه خبره به دا وي چې د ښودلو نه پس د **ښو ښو نيتونو** سره هغه رساله هغه ملاقات كونكي ته په **تُحفه** كښې وركړئ. ولې چې ښه ښه **نِيَّتونه** خو د هر [جائِز] كار نه مخكښې كول پكار دي كه چرې په يو عمل كښې يو هم ښه نِيَّت نه وو نو ثواب به نه كيږي. مَثَلاً د رساله وركولو په وخت كښې دا نِيَّت اوكړئ چې د "رضائے اِلٰهي په نِيَّت د يو مسلمان د زړه خوشحالولو د پاره تُحفه وركووم" كه د ښه نِيَّت كولو نه بغير چا ته د **نيكۍ دعوت** وركړئ، يا پرې "انفرادي كوشش" اوكړئ، يا سُنَّتونه ورزده كړئ، يا د سُنَّتو ډكې اِجتماع دعوت او په مَدَني قافِله كښې د سفر كولو دعوت وركړئ ، يا د مَدَني اِنعاماتو ترغيب وركړئ نو **ثواب** به مو نه كيږي.

## دراروانيِ هفتي رساله




فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زره سبزي منڊهي ڪراچيءَ
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com